سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۸ / ۰۱ / ۲۳

# د فخر افغان پاچا خان له خاطرو څخه:

«په ۱۹۲۶م کال کې بیت المقدس ته ورغلم، هلته به مې چې هره آباده ځمکه لیده نو خاوند به یې یهودی وو او چې شاړې ځمکې به مې لیدې خاوند به یې عرب وو. د یهودانو په سیمو کې خوړنځایونه پاک او یوازې به ماښام په کې کسان لیدل کېدل، ځکه د ورځې به ټول یهودان په کار بوخت وو. خو دعربانو په سیمو کې به رستورانتونه تمامه ورځ ډک ول، خلک به په کې ناست ول چلمونه به یې ځکول او یو ډول لوبه به یې کوله. یوه ورځ مې له یوه عرب سره خبرې کولې او د شاړو ځمکو خبره مې ورياده کړه چې د یهودانو سیمې آبادې او ستاسو بیا شاړې پرتې دي. هغه وویل موږ دا شاړې ځمکې په یهودانو خرڅوو چې آبادې یې کړي، هسې هم دا وروستۍ پېړۍ ده او مهدی ع را روان دی او دا ټول به بېرته زموږ شي»

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ